مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

پښتو ژباړه: رحمت آريا ۲۰۲۳/۰۷/۲۵

# د افغانستان سياسي - تأريخي ژورنال
**(د افغانستان سياسي تأريخي گزيتر)**

## پينځم توک
## کندهار
## او
### د افغانستان سویل – مرکزي برخي

دوه سوه او نهه څلويښتمه پرله پسي برخه
ايديت:
ډاکټر لودويگ آدمک

AKADEMISCHE DRUCK- u. VERLAGSANSTALT
GRAZ – AUSTRIA

1980

**ميان بولدک**: وگورئ: بولدک

**مسکين خان**: ۳۵ – ۳۱، ۳۵ – ۶۶ «ج»: دا د ۱۰۰ کورونو يو کلى دى چي د بارکزيو د کليو په ډلي پوري اړه لري او د کونچاړي په نوم ياديږي. د دې کلي له ښتگه هغه سرک تيريږي چي له امين کلا ښخه ۲/۱ ۲ مايله ليري ارغسان ته ځي او د ارغسان د سيند په ښۍ غاړي کې له هغۀ ټکي لږ پورته واقع دى چي د وندوز ناله له ارغسان سره يو ځاى کيږي، د دې نالي ستوغه کينه غاړه ځو تيټي ډبريني غونډۍ ورښخه جلا کوي. د دې ځاى خلک سمسور او ماړۀ خلک دي او ځو ښکر لرونکي ياډې لري. د دوى ځمکي د ارغسان په اوبو خړوبيږي. «کليفرډ، مسي»

**ميان جوى**: ـ ۳۱، ـ۶۵: دا په قريه جاتو کې د مرغان او «دِۀ کوچي» [1] تر منځ د ميان جوى د کانال پر غاړې يو کلى دى. «بيسکو»

[1] - Deh -i- Kuchi


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

**میان جوی**: ۲۹ ــ ۳۱، ۴۴ ــ ۶۵ «ن»: دا د کندهار د سویل په ۲/۱ ۷ مایلۍ کې د ترنک د سیند په کیڼې غاړې کې د «مُرت قلعه» (مرد کلا) [2] په مقابل لوري کې یو کلی دی.

* **میر آباد**: وګورئ: مر آباد

**میر افضل**: ۲۲ ــ ۳۱، ۵۷ ــ ۶۵ «ج»: دا د لوړه په درې کې د ۳۰ کورونو یو کلی دی چې نیم ئې خوګاني او نیم ئې پوپلزي دي، د پوپلزیو د برخې کلي له منځه هغه سرک تیریږي چې له امین کلا څخه تر سربلند پورې تیریږي. دا کلی د لوړه د سیند په ښی کې غاړه واقع دی او مسې ئې د نورو هغو کلیو په منځ کې یادوي چې په سربلند کې ئې میشت ځواک ته د ارتیاوړ توکو د چمتو کولو ورتیا درلودله. د دغه کلي نوم د هغه سرې له نوم څخه اخیستل سوی دی چې په ۱۸۷۹ ــ ۸۰ کال کې د دې کلي ملک وو او د سیند په غاړو کې خپلې ځمکې لري. «کلیفرډ، مسې»

**میر افضل**: ۳۵ ــ ۳۱، ۴۹ ــ ۶۵ «ج»: دا شوراندام ته نیږدې د کندهار د ختیځ په ۵ مایلۍ کې یو کلی دی. «بیسکو»

**میر افضل څاه**: دا د بلوڅ پر سرحد د ۱۱ خاصه دارانو یوه پوسته ده. «آی. بي. سي. ۱۹۰۵»

* **میرآغه**: ۳۷ ــ ۳۲، ۱۴ ــ ۶۷ «ن»: دا د زابل په ولایت کې د ارغنداب د کلي په شمال ختیځ کې د سنګ خانې د نالې پر غاړې یو کلی دی.

**میر آخور**: ۳۰ ــ ۳۱، ۱۲ ــ ۶۵ «ن»: دا د یوه کلي او یوې کلا نوم دی چې د ارغنداب د سیند د ښی غاړې په اوږدو کې له کندهار او د سپیروان له جالې څخه د بُست تر کلا پورې د سرک پر غاړې د بُست د کلا په ۲/۱ ۴ مایلۍ کې مخکې له دې چې د شاه میر کلا ته ورسیږي یو کلی دی. هغه سرک چې «باغ مریز» [3] ته ځي د سیند تر ټولو نیږدې سرک سره په لنډ واټن کې موازي ځي او د دې کلا له بلافاصله شمالي اړخ څخه تیریږي. د کلي استوګن وګړي نورزي او اسحق زي دي؛ په دوی باندې شک وو چې زموږ د کمپاینونو پر مهال ئې زموږ د ځواک سرتیري او له کتار څخه وروسته پاتې سوې ډلې لوټ کړي او وژلي دي. دلته په ګاوند کې ډیر غنم او جوار او لږ شولې کرل سوي دي. دا ځای د خلیفه آباد، خلیفه رباط او د خوشدل خان د کلا په نومونو هم یادیږي. بیلو ئې د کاریز عطاء له لارې تر ګرشک او د بُست تر کلا پورې د سرک په اوږدو کې د پاکې او سوتره کلا په نوم یادوي. «آی. بي. سي.، بیلو»

**میر آخوران**: ــ ۳۱، ــ ۶۵: دا په قریه جاتو کې یو کلی دی چې د ارغنداب د سیند په کیڼې غاړې کې سیند ته نیږدې د «شک چاله» [4] او «خیشکي» [5] تر منځ واقع دی.

**میر علم** :ــ ۳۱، ــ ۶۶: دا د ارغسان په درې کې د سودَني د نالې پر غاړې د دریو کوچنیو کلیو په منځ کې یو کلی دی دا درې واړه کلي په ګډه سره د «خوګاني یا خوګیاني» [6] په نوم یادیږي. «کلیفرډ» وایي چې په *دې نوم څو نور ځایونه سته چې په ۳۷ ــ ۳۱، ۲۲ ــ ۶۶ «ج» کې، په ۵۳ ــ ۳۱، ۵۱ ــ ۶۶ «ج» کې، په ۳۴ـ ۳۱ ۳۴ ــ ۶۶ «ن» کې موقعیت لري.*

**میر علم**: ــ ۳۱، ــ ۶۶: مسې دا کلی د عبداللطیف له کلي سره یو ځای یادوي چې د وندوز د نالې پر غاړې واقع دي. کیدای سي دا هماغه کلی وي چې کلیفرډ د میر اسلم د کلي په نوم یاد کړی دی.

---

[2] - Murt Kala (Mard Kala)

[3] -Bagh Marez

[4] - Shakchala

[5] - Kheshki

[6] - Khaugani, or Khugiani


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

**میرعلم**: ــ ۳۱، ــ ۶۶: دا په ښوراوک کې یوه کلا ده چې د لوړه د سیند په کیڼې غاړې کې په هغـهٔ ټکي کې واقع ده چې سیند د غرونو له منځه راوځي. دا کلا، په قوم نورزي دراني، میرعلم خان جوړه کړې ده، نوموړی د ښوراوک د حاکم په توګه د احمد شاه «بابا رح – ژ» له پلوه مقرر سوی وو، نوموړي دا کلا د خپل استوګنځي لپاره او هم د دې لپاره چې دا دښته د لوړه په شاو خواوو کې د استوګنو اڅکزیو او نورو له بریدونو او چپاو څخه خوندي وساتي جوړه کړې وه. همدا شان میر علم خان د سیمې په ګاونډ کې ځمکې وپیرودلې او دا ځمکې لا تر اوسه د دهٔ د اعقابو په ملکیت کې دي. د میر علم د کلا دیوالونه او برجونه په نسبتاً ښـهٔ حالت کې دي خو له ډیرو وختونو راپه دیخوا دې کلا ته یوازې باندنی ظاهري بڼه ئـې پاتې ده او د کلا دننه په بشپړ ډول له منځه تللې ده، د کلا دننه کې اوس د غنمو پټي دي. د لوړه دره دلته ۲ مایله ارته ده. سیند په خپله هم ارت یا عریض دی او د سیند غاړې ټیټې دي او په معمول ډول اوبـهٔ لري خو اوبـهٔ ئـې لږ دي ځکه چې له دې ځایه پورته د سیند اوبـهٔ د ښوراوک د دښتې د ځمکو د خړوبولو لپاره ګرځول سوي دي. د میر علم خان په سیمه کې د کمپ لپاره د سم ځای موندل آسانه نه دی مګر دا چې ځمکې ئـې لو سي، د میر علم خان سیمه د « لوړه او د تنګ د تنګیو» [7] له لارې پشین ته د مستقیم سړک په اوږدو کې د دمې نیولو عادي ځای دی. د میر علم کلا د «تکیې» [8] یا د «حسابه» [9] د کمپ له سیمې څخه ۱۲ مایله لیرې ده؛ له جت پوټي څخه ۹ مایله؛ له احمد خان «پوټي» څخه « د سړک له لارې» ۱/۲ ۴ یا ۵ مایله او له «لشکر کچ» [10] ۱۱ مایله یا د لوړه په حلقي تنګي کې له «میرزا کچ» [11] څخه ۱۳ مایله لیرې ده. د پیر محمد د کاریز کلی سویل لویدیځ خوا ته ۱۰۰۰ یارډه لیرې دی. له دې ځایه د اړتیا وړ توکي تر لاسه کیدای سي؛ اوبـهٔ، سون لرګي او د اوښ خوراک دلته پریمانـه دي. دلته په شمال او شمال لویدیځ لور کې بې شمیره ژرندې سته. «میتلند»

**میرانزي**: دا د نورزیو یوه څانګه ده. «کلیفرډ»

**میرانزي**: دا د غلزیو یوه څانګه ده.

**میر اسلم**: ــ ۳۱، ــ ۶۶: دا د بارکزیو د ۲۵ کورونه یو کلی دی چې د وندوز د نالې پر غاړې له عبداللطیف پورته موقعیت لري. د دې کلي اوبـهٔ له کاریز څخه دي چې ښې اوبـهٔ دي او هم پریمانه دي؛ دلته په ندرت سره کرهنه سوې ده. «کلیفرډ»

**میر بازار**: ۳۶ – ۳۱، ۳۸ – ۶۵ «ن»: دا په قریه جاتو کې د ۴۰ کورونو یو کلی دی. دا کلی د هغـهٔ سړک د التصاق په ټکي کې واقع دی چې د سپیروان له جالې څخه کندهار ته راغلی دی، همدا سړک له ښاره تر کوهکران پورې تللې چې د کوهکران او د «ګوندیګان» [12] له منځه تیریږي. دا کلی د هغـهٔ غرهٔ تر بلافاصله شمالي اړخ لاندې واقع دی چې په مقابل لوري کې ئـې د زاړهٔ کندهار اړخ دی او د چهل زینې له غار څخه نیم مایل ورهاخوا واقع دی او د روز آباد د نهر په اوبو خړوبیږي. د کلي استوګن وګړي نورزي دي چې په منځ کې ئـې لږ شمیر کاکړ او غلزي هم سته او شمیر ئـې په ۱۸۷۹ – ۸۰ کال کې ۱۳۴ تنه ویل سوی دی. «هنل، بیلو، بیسکو»

---

[7] -Lora and Tang defiles
[8] - Takia
[9] - Hisaba
[10] - Lashkar Kach
[11] - Mirza Kach
[12] - Gundigan


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

**میرګیان:** مرګیان: دا د نورزیو یوه څانګه ده. «بیسکو» د میرګیان یا مرګیان په نوم یو کلی په ۳ ــ ۳۱، ۱۷ ــ ۷۷ «الف» کې موقعیت لري.

**میرګیان:** وګوري: ګاټې

**میر هزار:** ــ ۳۱، ــ ۶۵: دا د «تنګ لي»[13] د کوتل سویلي مدخل ته نیږدې یو کلی دی. دا کلی په ۱۸۷۹ ــ ۸۰ ز کال کې د سردار محمد قلیخان استوګن ځای وو. «لینس»

**میر قلم:** ــ ۳۱،ــ ۶۶: د کشوبې «خوږې اوبـهٔ - ژ» په درې کې یو کلی دی. «کلیفرډ»

**میر خان:** ــ ۳۱، ــ ۶۵: دا د ارغسان لور پر ښۍ غاړې یو کلی دی چې ظاهراً د میر افضل او سربلند له کلیو څخه دومره ډېر لیرې نـهٔ دی. دا کلی د پوپلزیو ۴۰ کورونه لري او نوم ئـې د همدې کلي د ملک له نوم څخه راغلی دی چې په ۱۸۷۹ ــ ۸۰ کې د دې کلي ملک وو. «کلیفرډ»

**میرکوټ:** ۲۸ ــ ۳۲، ۲۳ ــ ۶۷ «ج»: دا له کندهار څخه تر غزني پورې د سړک دغاړې ۱۲۵ مایلی کې د *شاه جوی د سویل لویدیځ په تقریباً ۷ مایلی* کې یو کلی دی. دا ځای په ژمي کې دومره سوړ دی چې فوستر ئـې په کله وایې چې د اکتوبر په میاشت کې یو مسې لوښی د شپې له پلوه دومره کنګل سو چې ټول لوښی د کنګل په یوې کتلې اوښتی وو. «فوستر»

**میرویس:** ــ ۳۱، ـ ۶۶: دا د کشوبې «خوږې اوبـهٔ - ژ» په درې کې یو کوچنی کلی دی. «کلیفرډ»

**میر شی:** وګورئ: میشی

**میرو خان:** یا عیدو زې: ۳ ــ ۳۰ ، ۳ ــ ۶۶ «ن»: دا د ښوراوک د ولسوالی په شیراني کې یو کلی دی. دا کلی د غرونو په لمن کې د شګو د یوې کوچنی غونډۍ پر سر چې د دښتې په منځ کې ده ودان سوی دی. دا کلی د لوړه په لویدیځ یا په کیڼې غاړې کې له سیند څخه تقریباً ۱ مایل لیرې واقع دی خو مندوزیو ته ور اوښتل ۳ مایله کښته کیږي او د خړوبو پټیو له کبله څو څو ځایه باید لاره بدله سي. د مندوزیو کلی ۱/۲ ۴ یا ۵ مایله لیرې دی؛ د زبر دست کلی شمال ختیځ لورته ۲ مایله لیرې دی او جت پوټې شمال لویدیځ لور ته تقریباً ۹ مایله لیرې دی؛ او د ولي د کوتل مدخل سویل ختیځ لور ته ۱/۲ ۴ مایله، د ایلتاز کاریز د سړک له لارې ۱/۲ ۱۶ مایه لیرې دی. دې کلي کې د عیدو زیو شیرانیو «بړیځانو» تقریباً ۶۰ جونګړې دي. دلته پریمانه خړوبه ځمکه سته چې د څو مایلو په واټن له سیند سره موازي غځیدلي ده. دلته اوبـهٔ چې د اوبو لګولو له سیستم څخه دي پریمانه دي خو لږ تروې دي. کلي ته نیږدې یوه څاه ده چې د کلي په شمال ختیځ کې د « زبردست» د کلي پر لور تقریباً ۵۰۰ یارډه لیرې ده. د څاه سورې مستطیل ډوله دی چې ۴ فیټه په ۱/۲ ۲ فیټو کې ارتوالی لري او ویل سوي چې څاه ۴۰ ګزه یا تقریباً ۱۲۰ فیټه ژوره ده. په شګلن بستر کې ئـې اوبـهٔ سته او د څاه اړخونه دننه باید وپوښل سي چې څاه دننه ونـهٔ نړیږي. د څاه اوبـهٔ خوږې دي. دا څاه کله نا کله پاکولو ته اړتیا لري. دا څاه یوازې هغه وخت کارول کیږي چې نهر وچ سي. دلته د کمپ لپاره پریمانه ځای سته؛ د اوښ خر لپاره ځایونه ئـې له ژمي پرته ښـهٔ دي؛ سون لرګي هم د زغم تر کچې پریمانه دی. له دې سیمې څخه د پام وړ اړتیا توکي تر لاسه کیدای سي خو انتظامات

13 -Tangli pass


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولـئ

ئـي باید مخکي له مخکي نیول سوي وي. د ښاروپو لپاره غلات دلته په ندرت دي خو غنم پریمانه دي. د اوبو ژرندي دلته د دښتي په شمال ختیځ ګوټ کي له دې ځایه تقریباً ۱۰ مایله لیرې دی.

هغه سرتیري چي د «ولي د کوتل» له لارې له شارود او میرو خان څخه راځي ښایي دا ځای ورته په ښوراوک کي د دمي نیولو لپاره لومړنی ځای وي. «میټلند»

**میرزا کچ**: ۳۰ - ، ـــ ۶۶: لوړوالی: ۳۴۵۰ فیټه. دا د ښوراوک لوړه د سیند په کیڼي غاړې کي یوه کم ارتفاع لوړه سطحه ده چي له «سیلي کچ» [14] څخه لس مایله پورته موقعیت لري. دلته سون لرګي او د اوښ خړ لپاره ځایونه پریمانه دي او هم یو شمیر زیږۀ واښـۀ تر لاسه کیدای سی. دلته د اړتیا وړ توکي نـۀ سته. دلته استوګن وګړي یوازې څو بدوزي او نور ئـي اڅکزي دي. دوی بد شهرت لري. «آی. بي. سي.»

**مِس کاریز**: ـــ ۳۱، ـــ ۶۴: دا د کندهار ـ ګرشک د لارې په اوږدو کي څلورم منزل دی چي له کندهار څخه ۵۱ مایله لیرې موقعیت لري. د جنرال بوروز ځواک د ۱۸۸۰ ز کال د جولای د میاشتي په ۱۵ نیټي دلته دمه وکړه، دا ځواک هلمند ته تللی وو او له هغـۀ ځایه بیرته راستینده، دوی وایي چي دلته ډیرې ښې اوبـۀ او پوونده ستړه خو د اړتیا وړ توکي یا سون لرګي نـۀ سته.

"د مس کاریز یو کوچنی کاریز دی او د ښو اوبو بهیر دی چي یوه ټاکلي اندازه کرنیزه ځمکه چي علوفه باب تولیدوي خړوبوي. سون لرګي په ندرت موندل کیږي. د کمپ سیمه د اوبو د بهیر اړخ کي د توتو ونو ته نیږدې واقع ده." «بیټ»

**مصري خیل**: دا د اسحق زیو درانیانو یوه ښاخګه ده. «بیسکو»

**میزان/میزانه**: ۱۰ ــ ۳۲، ۳۱ ــ ۶۶ «ن»: میزان د زابل په ولایت کي د یوۀ کلي او یوې علاقه دارۍ نوم دی. دا علاقه داري ۱۰۷۸ کیلومتر مربع مساحت لري او افغان سرچینو د دې علاقي دارۍ دوګړو شمیر د ۱۸۱۹ تر ۲۷۰۷ تنو پورې اټکل کړی دی. د دې علاقه دارۍ کربښې: لویدیځ: د دهلې، شمال: د دایي چوپان او ارغنداب، ختیځ: د قلات او په سویل کي د جلدک ولسوالۍ دي. د میزان علاقه داري ۶۸ کلي لري چي هیڅ یو کلی ئـي له ۵۰۰ ډیر استوګن وګړي نـۀ لري. لنډ مهالي مجلې دا کلي په لاندې ډول لیست کړي دي:

| سرناوۀ ارغسو | | پای ـی- ناوۀ ارغسو | میان جوی ـ ی - ارغسو | درویشکِ ارغسو | |
|---|---|---|---|---|---|
| موسی تاخم | | چشمـۀ تاخم | ناوۀ تاخم | یقیر تاخم | |
| سی لم | | کاو شک | شیکان | سی لم پوتی | |
| دیپ خان | | کوله کشت | ګنبد | ناجوی | |
| موش خانه | | خنجه کک | تاخم شیکان | بګوان پاتاب «بګوان» | Bagwan Patab ( Bagwan) |
| صدر سینګهـ | Sadar Sing | قورغان | لندی | دَوله یا ډوله | |
| کشمیران | | یغتو | انار تو | جنکه | |
| غوري ګګ | | سیاه سنګک | بادامک | کندلان | |
| جمالي | | مر خنجک | یرګه تو | نیمکۍ | |
| سرخ بید | | جرګانه | ګرنګ | توغارات | |
| حسنک | | سلیم ـ ی - شیکام | نام ران | توکرک «شالو کک» | |

[14] - Sili Kach


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې ښې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

| | | | |
|---|---|---|---|
| خواجه گوګردک | ناوۀ علم ګل | جوی کریم «ناوۀ علم ګل» | ماراني |
| ديوالک | زيارتِ مقرک | ناوۀ مقرک | تکل |
| جزګـۀ تقير | قنات «کاريز» حاجی عبدالاحد | زر داد تقير | هوتک تقير |
| مرياني تقير | حاجي اوليا | قناتِ شير | بارکزي |
| رامي زي | توتي | خواجه ګاوک | تور کس |
| بوراغ | سوخته | دَولانه | ساپي توت |
| کټه سنګ | جو زاره | | |

دا سيمه په ۱۹۱۴ز کال کې په لاندې ډول شرحه سوې ده:

د ميزان علاقه داري چې اشتباهاً «ميرجان» ليکل سوې ده د دغو سيمو تر منځ واقع ده: شمال او ختيځ کې قلات غلزايي، سويل کې ترنک او لويديځ کې دهله.

دا علاقه داري د لوړو دنګو وچو غرونو په منځ کې يو شمير تنګې درې لري چې لږ و ډير کرل سوي دي چې د اوبو د کوچنيو بهيرونو په اوبو چې په ښی زاويې کې بهيږي خړوبيږي، دا اوبـۀ ارغنداب ته ورغورځي. د اساسي درې لوړالی د ۴۸۰۰ او ۴۴۰۰ فيټو تر منځ دی. ارغســو ۴۴۰۰ فيټه، ســهلم ۴۵۵۱ فيټه دی. د ارغنداب شــمال کې غرونه دي چې تقريباً تر ۹۰۰۰ فيټو پورې لوړيږي حال دا چې دا دره ســويل کې د «بادام» او «ګاو مرده» په غرونو بنديږي او مور د دغو غرونو د لوړوالي په هکله معلومات نـۀ لرو. دا علاقه داري لاندنی فرعي علاقې لري يعنې:

| | | |
|---|---|---|
| تاقير | Takir | دا د علاقه داری په شــمال ختيځې منتهی اليه کې له هغو درو ســره موازي واقع ده چې د تاقير په بلافاصله ګاونډ کې او د تاقير په سويل لويديځ کې موقعيت لري |
| مقرک، تاخم | | |
| علم ګل خان، سياه جوی | | د ارغنداب په کيڼې غاړې کې. |
| سهليم يا قير | | |
| ارغسو | | د ارغنداب په ښی غاړې کې. |
| شيهان | Shehan | |

استوګن وګړي ئـې عمدتاً درې – پر ځلورم غلزي دي، يو پر ځلورم ئـې الکوزي دي. په ۱۸۷۹ – ۸۰ زکال کې د علاقه داری علاقه دار په قوم الکوزی جمعه خان نوم نوميـــــدۀ، نوموړی يو زوړ سړی وو چې په عمر تقريباً د ۶۰ کالو دی، دی اوس په تاقير کې ژوند کوي او د خوراک توکو او ماليانو په راټولولو کې هر ډول مرسته کوي.

ميزان د خپلو ګاونډيانو له لاسه د خوښی ورځ نـــۀ لري. له لويديځ لوري هزاره ګان او توخي غلزي په دې علاقه داری د لوټ او تالا لپاره را اوري حال دا چې «خروټي پوونده ګان» [15] چې د مقر په بلافاصله شمال کې ميشت دي ګوت لکې «انګشت نما» غلـــۀ دي. د ميزان اصلي کرهنيز محصولات جوار، غنم، وربشي دي او شولې هم په لږ اندازه په کې کرل کيږي. د دې علاقه داری په هرې درې کې د بادامو بڼونه سته او همدا شان يو شمير تاکستانونه هم لري.

تقريباً هر کلی د پسونو يوه يا څو رمې لري خو له دې چې دوی دا پسونو د ورېو لپاره ساتي ښځنتان ئـــې ليواله نـــۀ دي چې له ځانه ئـې ليرې کړي. په دې علاقه داری پورې اړوند اوښان نـۀ سته خو پوونده وګړي د اوښانو يو شمير پادې په

15 - Kharoti Powindahs


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې ښې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولـئ

ژمي کي د ځرلو لپاره دلته راولي. دلته د باروړلو لپاره سخوندر پريمانه دي او د علاقه دارئ له هر ځايه تر لاسه کيدای سي.
د دې علاقه دارئ يوازيني صادرات وړئ او بادام دي.
د علاقه دارئ ماليات عمدتاً ۴۵۰۰ مَونده دي چې دوه پر درييمه ئې په غنمو او پاتې ئې په نورو غلاتو ورکول کيږي.
د ميزان په علاقه دارئ کې د ارغنداب سيند په عادي وختونو کې په منځني ډول تقريباً ۳۰ يارده ارتوالی، په ساعت کې ۴ مايله چټکوالی او له ۳ تر ۶ فيټو پورې ژوروالی لري. ارغنداب هر څومره چې پر کندهار وکوزيږي هماغومره پراخيږي. د واورو د ويلې کيدلو پر مهال او له درندو بارانونو وروروسته د سيند د اوبو سطحه لوړيږي او له سينده تيريدل ناشوني کيږي او کله چې د تودې هوا پای رانيږدي سي نو دا مهال له سيند څخه تيريدل تقريباً له همدغهٔ ټکي څخه شوني دي. په دې سيند کې کبان پريمانه دي، معمول ډول ئې «زير وَزَرى يا زرد پَر» [16] دي چې د کشمير د خار ماهي په شان نهٔ دي. د افغانستان د ټول سويل په شان دې علاقه دارئ کې هم د ونو کمښت او نست والی له ورايه ښکاري. يوازينۍ ونې چې سته يو شمير د توت او د ولې ونې په درو کې سته، د وحشي غوزانو «چهار مغزو» يو شمير ونې د غرونو په اړخونو کې ليدل کيږي، او کله نا کله کومه منفرده ونه د ګړنګونو د ژيو پر لوړو چې لاسرسی ورته ناشونی دی ليدل کيږي او ويل کيږي دا د پستې له ډولونو څخه يو ډول دی. د سيند په دواړو غاړو کې سيمه بيديانی او غرنی ده يوازې د اوبو د کوچنيو بهيرونو د يوځای کيدنې په ټکيو کې چې دا اوبهٔ پر دغو ځمکو ورځي هلته ځمکې شنې دي، د سيند غاړو ته لاسرسی تر هغو ناشونی دی چې سيند د دهلې تر ولسوالی پورې ورسيږي او دره متدرجاً مخ خلاصې کيږي او له اويان کښته سيمه په ځانګړې توګه د سيند ښۍ غاړې کې ډيره کرل سوې ده؛ دلته دا سيمه مخ خلاصې ده او ټکې ټکې کلي په کې ودان دي. راپور ورکړل سوی چې د ميزان په شمال کې د سيند غاړې ډيرې محصورې دي او ډير ګړنګونه لری.
يو برتانوي ځواک چې له
د توپچي ځواک له ۲ بطريو
د سپارهٔ ځواک له يوې رسالې او
د پلي ځواک له يوې ليوا څخه جوړ وو
د ۱۸۷۹ز کال د فبرورئ په مياشت کې له قلات غلزايي څخه په ميزان کې د تاقير پر لور مارش وکړ او له هغه ځايه د ارغنداب د درې له لارې کندهار ته لاړ. له قلات غلزايي څخه تر تاقير پورې واټن ۱/۲ ۱۵ مايله دی چې تقريباً ۱۰ مايله ئې د ګاو مرده تر غرونو پورې د يوې پراخې دښتې له منځه دی او لاره همدلته کرار کرار د تاقير پر درې وركوزيږي. دلته د اړتيا وړ پريمانه توکي ترلاسه سول او هم د ترانسپورت لپاره سخوندر و پيرودل سول. دا ځواک د فبرورئ د مياشتې په څلورمې او پينځمې د تقريباً ۳ انچو واورو د وربښت لپاره په تاقير کې بند پاتې سو. «بيسکو، آی. بي. سي.»
په دې علاقه دارئ کې يو دولتي ګودام سته او ويل کيږي چې ۵۰۰ خرواره غله په کې زيرمه سوې ده. «بومي معلومات ۱۹۰۵»

16 - barbel


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

**مبین**: ـــ۳۱، ـــ ۶۶: دا د کشوبي «خوږي اوبـۀ» په دري کې یو کلی دی. «کلیفرډ» *په دې نوم یو کلی د شاه جوی د شمال ختیځ په تقریباً ۶ مایلۍ کې په ۵ ـ ۳۲، ۲۷ ـ ۶۷ «ج» کې موقعیت لري.*

* **مودي خیل**: ۳۳ ـ ۳۲، ۱۷ ـ ۶۷ «ن»: دا د زابل په ولایت کې د شـــاه جوی د شـــمال لویدیځ په تقریباً ۷ مایلۍ کې یو کلی دی.

**مودي زي**: وګورئ: مدو زي: ۳۴ ـ ۳۱، ۲ ـ ۶۶ «ن»

نور بیا

**موهات:...**

**یادونه:** قدرمنو لوستونکو**!** تاسو تر دغه لینک لاندی د ښاغلی آریا صاحب په آرشیف کی د لمړی ټوک، دوېم ټوک، دریم ټوک او د څلورم ټوک ټولي برخي لوستی شئ.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولـئ